مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۹/۰۵

# بیا هم د احمد بن حسن میمندي یا میوندي په باب

د دغي موضوع په اړه مي د ښاغلي محمدمعصوم هوتک په قلم لیکلی مضمون ولوست. حقیقتاً یې ډېر زیات زحمت ایستلی وو؛ خو که د دي مغتنم او علمي مضمون متن په مشخصه توګه زما نامه ته راجع سوی نه وای نو ما به هیڅ نه وای وربانديلیکلي. تر هر څه مخکي باید محترم هوتک صاحب ته ولیکم چي احترام باید متقابل وي. یوازي یوه چاته د شکاک! نوم ورکول د موضوع له سپړل کېدلو سره چنداني مرسته نه کوي. که څه هم چي زه په دې عقیده یم چي د لیکل سویو متونو په باب شک څرګندول ډېر بد کار هم نه دی او که د لیکل سویو متونو په باب شک څرګند نه کړو نو باید ټولي لیکني په پټو سترګو ومنو او د تحقیق لپاره زمینه نه پاتیږي.

هوتک صاحب د میمندي علیه الرحمة د زیارت مبارک په باره کي زما دا خبره چي زرکلونه مخکی له هرات څخه تر میوند پوري د مړي وړل له غیرممکناتو څخه وه لیکلي دي چي ښایی د هغه مبارک هډوکي به د هغه زوی عبدالرزاق میمندي تر میوند پوري وړي وي. په دې برخه کي له ترکیې څخه د سیدجمال الدین افغاني د هډوکو انتقال او له جرمني څخه د مرحوم محمدصدیق روهي د مړي د انتقال موضوع یاده کړې ده. خو دونه باید ووایم چي دا وروستی خبري په شلمي او یوویشتمي میلادي پېړی پوري اړه لري. زر کلونه مخکي د دغه ډول انتقالاتو تصور نه کېدی او حتی لویه ګناه بلل کېدله. تر دې خبري چي لا را تېر سو؛ میوند ته د حسن میمندي یا په اوسنی اصطلاح حسن میوندي د مړي د انتقال ضرورت څه وو؟ دا خبره به موږ هغه وخت، تر یوه ځایه، منلي وای چي لېترلېږه د عبدالرزاق میمندي، یا په اوسنی اصطلاح میوندي قبر یا د حسن میمندي د پلار قبر خو هلته موجود وای نو سړي به ویلي وای چي د حسن میمندي یا میوندي زوی، د خپل پلار سره د زیات اخلاص په وجه، د هغه مبارک مړی یا هډوکي میوند ته انتقال کړل.

د تاریخ بیهقي په ۶۳۱ مخ کي لولو چي سلطان مسعود یمن آباد او میمند ته ولاړ او هلته په هغو پادشاهانه قصرونو کي چي خواجه حسن جوړ کړي وه پاته سو. موږ په میوند کي، چي هوتک صاحب وایی له میمند څخه مطلب میوند دی، د هغو پادشاهانه قصرونو څخه یو نښه یا یوه خښته تر اوسه پوري لیدلي ده؟ که هر څونه خرابی سوي او هر څونه بدمرغی راغلي وای نو د هغو قصرونو څخه یوه نښه حتماً پاته کېدله چي دا دی نسته.

ښاغلی هوتک صاحب وروسته د میمند پر نامه باندي کار کړی دی او په دې سلسله کي یې اووه هغه ښارونه او قریې ښودلي دي چي میمند بلل سوي وه.

ښاغلی هوتک صاحب وروسته لیکي: « که ښاغلي جهاني د همدې وروستی جملي په ادامه متصله جمله هم را اخیستي وای نو د شک لپاره ( چي له بده مرغه زما په خبر شکاکانو کار دی) به یې اړتیا نه وای احساس کړې. د هغې جملي په ادامه راغلي دي: و روز چهارشنبه چهارم جمادی الاولی به کوشک دشت لګان باز آمد. له دغه میمند څخه چي خواجه احمدحسن پکښي پادشاهی مانۍ ودانی کړي وې، امیر نهه ورځي وروسته په دشت لګان کي دی. که د بمیمند بماند فقري ته ځیر سو ښایی دشت لګان ته د امیر د رسېدو ورځي تر نهو ورځو لږ وي. دشت لګان به په اوو میمندونو کي کوم میمند ته دومره نیژدې وي چي امیر په څلورو ورځو کي ور ورسیږي...»

کله چي لیکنه کوو او کله چي د یوه کتاب څخه متن را اخلو نو باید چي امانت وساتو. په تاریخ بیهقي کي کوشک دشت لګان نه بلکه کوشک دشت یکان راغلی دی او وروسته یې د کتاب د حاشیو په ۷ لمبر کي ورته لیکلي دي چي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ط نسخه کي لنکان دی. دشت لګان به ، که خدای درواغجن نه کړم، زموږ خپله اختراع وي. البته دا خبره باید په نظر کي ولرو چي د زمانو له تېرېدلو سره له یکان څخه لنکان او له هغه څخه لګان جوړېدلای سي. او که نه وو جوړ سوی نو باید چي موږ يې، د خپل کار د اسانی لپاره، په لوی لاس او وچ زور، ورڅخه جوړ کړو.چاره څه ده باید ویې منو.

ښاغلی هوتک صاحب د جهاني هغه خبره چي د مرحوم محمدولي زلمي د کتاب په حواله يې د میمندي د غوثیت او ولایت د درجي په باره کي کړې ده ځکه ردوي چي وایی میرویس نیکه هم ولی نه وو مګر خلک یې د زیارت څخه د توري غاړي د علاج مرادونه غواړي. خو خبره دا ده چي د میرویس نیکه او احمدشاه بابا د قبرونو د موجودیت په باره کي هیڅا تر اوسه شک نه دی کړی. د هغوی قبرونه معلوم او موجود دي او د هغوی شخصیتونه او کارنامي تثبیت دي. دا چي پښتانه، د نورو وروسته پاته قومونو په څېر، مرده پرست او قبر پرست دي؛ او د میرویس نیکه له زیارت څخه د توري غاړي د علاج غوښتنه کوي او یا د احمدشاه بابا له زیارت څخه مرادونه غواړي، دا بیخي بله موضوع ده. موږ خو اصلاً د ښاغلي میمندي د قبر د موجودیت په باره کي شک لرو نه د هغه د غوثیت او ولایت په باب. که ما دا خبره منلای چي دا قبر د هغه میمندي دی چي مړی يې له هرات څخه دلته راوړل سوی دی نو بیا خو خبره ختمه وه.

په حقیقت کي زما د نیمګړي لیکني او اعتراض اصلي علت لا د ښاغلي میمندي د قبر او د هغه د میمندي او میوندي اصلیت په باره کي نه وو. بلکه زما د لیکني اصلي هدف د دې ادعا ردول وه چي ګواکي ښاغلي میمندي د پښتو الفبا جوړه کړې ده.

الفبا د څه لپاره؟ طبیعی خبره ده چي الفبا د لیکني لپاره جوړېږي یا تغیرپکښي راوستل کېږي او یا انکشاف کوي. خو په دغه الفبا، چي یوازی يې ملا خیرالله د خپل قاموس په مقدمه کي ادعا کړې ده او د میمندي له زماني څخه لږترلږه ۹۰۰ کاله وروسته یې، پرته له هیڅ ډول استناد څخه را اخیستي ده، کومه لیکنه ، کوم شعر، کومه قباله، کوم سند موجود دی؟

پیرروښان د پښتو لیکلو لپاره د پښتو ژبي الفبا جوړه کړه. له هغه راهیسي، په دې څه باندي څلورنیم سوه کاله کي، د هغي الفبا په اساس، په پښتو ژبه، په زرهاوو منثور او منظوم کتابونه ولیکل سول. یقیني خبره ده چي پیر روښان دا الفبا د دې لپاره نه وه جوړه کړې چي یوازي دی لیکنه په وکړي؛ بلکه په پښتو ژبه يې د سواد د عاملو په منظور د الفبا د جوړولو ابتکار وکړ او تر نني ورځي يې کار ورکړی دی. د میمندي صاحب پر الفبا باندي څه تېکه پرېوته؟ هغه الفبا بالاخره څه سوه. د هغي مفروضي الفبا او د پیر روښان تر منځ زیات و کم پنځه سوه کاله تېر سول. په دې دومره اوږده زمانه کي کومه منظومه یا منثوره ( البته مستنده) پاته، چي د میمندي د الفبا په اساس لیکل سوې وي، څوک ښودلای سي؟

او که چیري په دې باره کي هیڅ سند او مدرک موجود نه وي نو بیا د ملا خیرالله ، دغه چتي او بې هیڅ ډول استناده ادعا، په استدلال یا استناد یا حتی یو ځل فکر کولو او غور کولو ارزي؟ زه اصلاً نه پوهېږم چي محترم هوتک صاحب دا دونه زیار د څه لپاره ګاللی دی.

که د تاریخی او ادبي افسانو کیسي را واخلو نو بیا خو مخزن افغانی، حیات افغاني، تواریخ خورشید جهان او .... له زرګونو افسانو څخه ډک دي. موږ به د ټولو په سپړلو خپل مغزونه خرابوو؟ او د هرتوري لپاره به مشتقات ورته ټاکو؟ له خرښبون څخه به خیرالدین جوړوو، له بیټ نیکه څخه به عبید نیکه جوړوو له ښرخبون څخه به سخرالدین او.... جوړوو؟ کنه نو د یوه سړي نوم، چي هغه زموږ ټولو پښتنو محترم نیکه دی، عبدالرشید ( قیس عبدالرشید پټان) وي نو بیا یې د زامنو نومونه ولي بیټ، سړبن او غرغښت وي؟ په کارخو دا وه چي زموږ د نیکونو نومونه عبدالرحیم، عبدالرحمن، عبدالحکیم او... وای او موږ به اوس رحیم زي، رحمن زي، حکیمزي او ... وای.

استناد د تاریخ ناموس دی. تاریخي لیکني د استناد په ترازو تلل کیږی. د میمند څخه د میوند په جوړولو، د یکان او لنکان څخه د لګان په جوړولو کار نه کیږي. د ملا خیرالله تشه او بې اساسه ادعا اصلاً د تبصرې کولو ارزښت نه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

لري. او که ځوک د دغه راز بې اساسو او بې ارزښتو ليکنو په باب شک څرګندوی نو هغه ته بايد د شکاک منفي کلمه استعمال نه کړو.

تاريخ په افسانو نه جوړيږي بلکه افسانې دي چې تاريخ مغشوشوي او له قام څخه خپله هينداره ورکوي. تاريخ د قوم هينداره ده. هر څومره چې دا هينداره روښانه وي په هغه اندازه قوم خپل ځان ښه پکښې پيژني. هر څومره چې يو قوم خپل ځان وپيژني په هغه اندازه يې حال يا اوسني حالت ته ګټوره ده او په هغه اندازه د آينده يا راتلونکي په باب پيش بيني کولای او لاره ټاکلای سي. د يوه سپين ږيري په حيث مې، ټولو پښتنو ځوانانو ته دا توصيه ده چې يوازې قرآن شريف ته د مقدس متن په سترګه وګوري او درناوی يې وکړي. نور ټول متون، که لس ځله کره سوي او سره سوي هم وي، له سره ولولي او د متونو په باب يې، که شک ورته پيدا سي، د جوابونو غوښتنه وکړي.

د پښتنو تاريخ، له بده مرغه له افسانو ډک دی. نه يوازي له پخوا څخه افسانې موجودي وې بلکه وروسته ډيري نوري په لوی لاس ورته جعل سوي دي. جعل سويو افسانو د مقدساتو حيثيت غوره کړی دی او هغو ته لاس وروړل او انتقاد ورباندي کول يو ډول تابو ګڼل سوی دی. تر څو چې د دغه ډول تابوګانو سرحدونه مات نه سي او تر څو چې د ملاخيرالله په څېر بې اساسه ادعاوي نه يوازي دفاع نه سي بلکه بيخي له نظره ونه غورځولي سي د تاريخی تحقيقاتو په مخ کي به تل خنډونه موجود وي، د تاريخ هينداري به تر قيامته پوري تاريکي پاته وي او موږ به د ميمندی د پښتو الفبا څخه، چي يوازي يې د ملا خيرالله د خيال په دنيا کي وجود درلود، په دفاع لګيا يو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ